روښانه دوره وه. هغه د زرو ښارونو په نامه یادېده، له زراعتي او کلیوالي حال نه تېره شوې، مدني او ښاري دورې ته رسېدلې وه. په دغې دورې کې محلي او ترانزیتي سوداګري وده کړې وه، چې له امله یې نقره یې سکې پرېمانه په چلند کې وې. د دغه نوي مدنیت ترڅنګه د باختریانو او ښاري یونانیانو او د کلیو او بانډو خلکو په دغسې فضا کې سره ګډ ژوند کاوه، چې د اروپایانو او اسیایانو د وروری او همکاری لوړه بېلګه ګڼل شوې ده. د مؤلف هولټ په وینا "د نولسمې پېړۍ اروپایي پوهانو په باختر کې د لرغوني نړۍ د پر ښه اړخونه وموندل." څینو لا د بېلو کلتورونو د خلکو ترمنځ د دغه وروري لړ تر لړه په څینو برخو کې د اسې ګڼله، چې نړۍ یې د عیسویت د هسکېدلو لپاره هواره کړې وي(۹۰).

## پارتیه:

د پارت دولت، چې د یونان- باختر په لویدیځ کې هسک شو، د وروستي په زیان تمام شو، که څه هم هغه ورته د سلوکیدي خطر مخه نیولې وه. پارتیه د دامغان، شاه رود، جوین، سبزوار، نیشاپور، طوس، ترشیز له سیمو او د هریرود له حوضې نه جوړه وه(۹۱). دا هغه سیمه وه، چې په منځنیو پېړیو کې د خراسان په نامه یاده شوه.

SABAWOON.COM

پارتیه دوه کاله وروسته له هغه په مخزیږدي ۲۵۴ کې سر هسک کړ، چې د یونان-باختري دولت په بلخ کې د دیودوتس په سروالۍ په واک رسېدلی و. د پارت د دولت د بنسټ ډېره ارساس (Arsaces) ایښې وه، چې په ارساک (Arsak) یا ارشاک یادېده. دی د پرنای (Parnae) څانګې مشر و، چې د پووندې دهای (Dahae) قوم یوه برخه وه او هغه مساګیتا (Massagetae) ته منسوب وه. دوی چې په اصل او نسب کې ساکاوو د کسپین او ارال ترمېنځ سیمو کې اوسېدل[۹۲]. د ګرشمن په وینا "د ایران په خاوره کې د پارني ننوتل د ستي [ساکي] قومونو د هغه لوی حرکت مخکښ ګڼل کېدلی شي، چې یوه پېړۍ وروسته د هغو یرغل ایراني [د پارس] دولت نسکور کړ او د یونان-باختري واکمني یې ختمه کړه."

په هر حال د پارت واکمني اول تر څه حده د ارساک د ورور تیریداتس (Tiridutes) او په پوره ډول د متریداتس (Metridates) په پاچایي کې په یوې امپراتوري بدله شوه. ددغې کورنۍ هر پاچا د پارتیا د مؤسس ارساس (Arsases) په لقب یادېده او وروستی پاچایي ارته بانوس (Arta banus) د دېرشم ارساس لقب درلود. لومړی متریداتس له مخزېږدي ۱۲۰ نه تر ۱۴۰ پورې ماد، ایلام، پارس، کاراسین (Characene)، بابل، اثوریه په لویدیځ کې او ګدروسیه او ممکن هرات او

SABAWOON.COM

سیستان په ختیځ کې لاندې کړ. په دې ډول د پارت امپراتوري په اروپا کې د روم د امپراتورۍ رقیبه شوه، چې د سلوکوس امپراتوري یې لاندې کړې او په خپله یوه لویه امپراتوري جوړه شوې وه، خو هرات او سیستان چې د مخزېږدي لومړۍ پېړۍ پورې د پارت د امپراتورۍ یوه برخه وه، له هغه وروسته د ګوندوفاریس (Gondophares) په مشرۍ خپلواک شو. دی چې په ختمه ساکاو له سیستان نه تر اباسین نه اخوا پورې یې دغسې یوه لویه امپراتوري جوړه کړه، چې تر زېږدي دریمې پېړۍ پورې پرځای وه، چې له هغه وروسته ساسانیانو لاندې کړه، د ساساني اردشیر پاچا د پارتیه وروستۍ پاچا ارتهبانوس په له منځه وړلو سره د پارتیه امپراتوري په زېږدي ۲۲۴ کې ختمه کړې وه[۹۴].

## د چین د لوی د بوال بشپړېدل او په باختر باندې د هغه اغېزې:

په اصل کې دا د چین د لوی د بوال بشپړېدل و، چې د یونان-باختري دولت د نسکورېدلو لامل شو. دغه د بوال د چین په نامه د واکمنې افسانوي مؤسس شهه هوانګ تي (Shih Huang Ti) په دوره کې په ۲۲۰ مخزېږدي کې بشپړ شو. "چینایانو له ډېر پخوا نه د دفاعي د بوالونو په جوړولو معتقد شوي او په شمال او شمال-لویدیځ

SABAWOON.COM